افغانستان سره د آلمان همکارۍ

# د پراختیايي پروژو کیفیت او روڼتیا








## وضعیت

له ۲۰۰۹ زېږدیز کال را پدېخوا، فدرالي حکومت له افغانستان سره د آلمان په همکارۍ کې له ۳.۸ بیلیونه یورو څخه زیاته پانګونه کړې ده. دا مدني ښکېلتیا په دوارو هېوادونو کې له جدي عامه مناظرې سره مل ده. دا پوښتنه اکثره راپورته کېږي چې آیا مالي مرستې په بریالیتوب سره کارول کېږي او متوقع موخې ترلاسه کېږي. د افغانستان سره د آلمان د همکارۍ پاليلي په افغانستان او آلمان کې اکثره خلکو او پرېکړه نیوونکو ته په سمه توګه نه دي ور پېژندل شوې.

اغېزمن پراختیايي کار د معلوماتو قوي بنسټ او همدارنګه د وګړو ملاتړ ته اړتیا لري. د دې موخې ترلاسه کولو لپاره، د پراختیايي پالیسۍ د اقداماتو د پایلو په اړه پایلې باید په دوامداره توګه راټولې او پروسس شي. په شفافه توګه د راپور ورکولو لپاره، خلک باید د پایلو او لاسته راوړنو څخه هم خبر شي. همدا خبره د هغو ملي پراختیايي پروژو په اړه سمه ده چې د افغان شریکانو لخوا پرمخ وړل کېږي. تر دې دمه، د افغانستان د اقتصادي چارو وزارت د معتبرو معلوماتو په اساس د خپلو پراختیايي پروژو په اړه کافي راپور نه دی ورکړی. د څارنې، ارزونې او معلوماتو د تحلیل په برخه کې اوس هم د سکتور او میتودولوژۍ د تخصص لپاره ستره اړتیا لیدل کېږي.

| لنډه کتنه | |
|---|---|
| پروګرام | څارنه، ارزونه او عمومي اړیکي (MEC) |
| دستور ورکوونکی | د آلمان د اقتصادي همکارۍ او پراختیا وزارت (BMZ)، د آلمان د بهرنیو چارو وزارت |
| شریکان | د افغانستان د اقتصاد وزارت (MoEc)، د افغانستان د مالیې وزارت (MoF) |
| پلی کوونکی سازمان | Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH |
| ولایتونه | په ملي کچه |
| د پروګرام موخه | د افغانستان سره د آلمان د همکارۍ د پایلو او اقداماتو په اړه د ډاټا راټولول او پروسس کول. عام خلک او پرېکړه نیوونکي په شفاف ډول باخبره ساتل کېږي. د افغانستان د اقتصاد وزارت د څارنې او ارزونې مهارتونو ته وده ورکړل شوې ده. |

## موخه

د افغانستان سره د آلمان د همکارۍ پایلې او اقدامات ثبت او پروسس شوي دي. په افغانستان او آلمان کې افغان وګړي او سیاسي خپرونکي او پرېکړه کوونکي د سالمو او جنډر مشخصو معلوماتو پر اساس خبرېږي. د افغانستان اقتصاد وزارت کولای شي چې په خپلواکه توګه د څارنې او ارزونې سیستم له لارې د ملي پراختیايي پروژې مستند کړي، ویې ارزوي او په اړه یې راپور ورکړي.



د افغانستان د اقتصاد وزارت ۳۵۰ دولتي کارکوونکو له ۲۰۱۲ زېږدیز کال راهیسې د څارنې او ارزونې د سیستمونو په اړه په روزنیزو کورسونو کې ګډون کړی دی.

## اقدامات او پایلې

د پروژې کار د فعالیت په دریو برخو باندې تمرکز کوي:

### د پایلو اندازه کول

د افغانستان سره د آلمان د همکارۍ اقدامات او پایلې په یو ډیټابیس کې ثبتېږي. د افغانستان لپاره د آلمان د پراختیا تعقیبوونکي سیستم (DevTracker) له ۲۰۰۹ زېږدیز کال راپدېخوا د ۷۲۰ پروژو او له ۲۳۰۰۰ څخه زیات معلوماتو په اړه ډاټا راټوله کړې ده. دا ثبتونې له ۵۰ څخه په زیاتو کټګوریو لکه زېربنا، مالي خدمتونو او روزنیز پروګرام باندې وېشل شوي دي. دا د عامه وګړو د خبرولو، د پایلو د اندازه کولو او د انفرادي پروژو د ارزولو او په ټوله کې د افغانستان پر وړاندې د آلمان د پراختیا همکارۍ د ژمنې په برخه کې ارزښتناکې مرستې دي.



DevTracker د اقداماتو او پایلو په اړه مالومات راټولوي | © GIZ

## شفاف راپور ورکونه

د DevTracker سیسټم ډاټا په آلمان او افغانستان کې عامه وګړو او پالیسۍ جوړوونکو ته جامع، شفاف او د تایید وړ راپور وړاندې کوي. په افغانستان کې د عامه اړیکو کار له موخو څخه یوه له رسنیو او مدني ټولنې څخه هغو سیاسي پیاوړي کوونکو ته رسېدل دي چې د افغانستان سره د آلمان همکارۍ د بریالیتوبونو او اندېښنو په اړه افغان وګړي خبرولای شي. یو زرو او څلور سوه افغان ژورنالیستانو له ۲۰۱۳ زېږدیز کال راهیسې په مطبوعاتي غونډو کې ګډون کړی دی.

د همکارۍ اقدامات او پایلې په مستقیم ډول لېوالو خلکو ته د لاسرسي رامنځته کولو لپاره، دېرې پروژې د germancooperation-afghanistan. de په وېبپاڼه کې وړاندې کېږي. دا وېبپاڼه په دري، پښتو، انګلیسي او آلماني ژبو کې شتون لري او په منظم ډول نوی کېږي. د افغانستان سره د آلمان د همکارۍ وروستۍ پایلې همدارنګه د فیسبوک چېنل "German Cooperation with Afghanistan" له لارې هم خپرېږي.



۱۴۰۰ افغان ژورنالیستانو له ۲۰۱۳ زېږدیز کال راهیسې د افغانستان سره د آلمان د همکارۍ په اړه په مطبوعاتي غونډو کې ګډون کړی دی.

## په اقتصاد وزارت کې مهارتونو ته وده ورکول

دا پروژه د څارنې، ارزونې، د ډاټا تحلیل او سافټویر د کارونې په برخه کې د مسلکي روزنیز پروګرام په ترسره کولو کې د اقتصاد له وزارت څخه ملاتړ کوي. د وزارت کارکوونکي په دې اړه زده کړه کوي چې په راتلونکي کې د نړیوالو ماهرینو په ملاتړ د تکیه کولو پرته څرنګه د پروژې اړونده ډاټا راټوله کړي او ویې ارزوي. یو تمرکز یې د پایلو پر بنسټ څارنه (RBM) ده، کومه چې د نړیوال بانک د عمومي نمونو پر بنسټ ده. د پایلو پر بنسټ څارنه (RBM) د پالیسۍ د پروژو په پرمختیا کې د پرمختګ د سیستماتیکي او دوامداره څارنې او ثبتونې امکان برابروي.

نږدې ۳۵۰ دولتي کارکوونکو له ۲۰۱۳ زېږدیز کال راهیسې په روزنیز پروګرام کې ګډون کړی دی او دوی اوس کولای شي چې په خپله د څارنې او ارزونې سیستمونه رامنځته کړي او په ملي او د ولایت په کچه یې وکاروي. د افغانستان د ټولو ۳۴ ولایتونو لپاره د پایلو پر بنسټ څارنې ډیټابیس معرفي شوی دی. دا ډیټابیس د ملي پراختیایي پروژو د بودیجو، مقعیت او د پرمختګ د تطبیق په اړه معلومات لري. د داسې باوري ډیټابیس رامنځته کول به په ملي او د ولایت په کچه په افغان دولت کې له پرېکړه کوونکو سره مرسته وکړي څو په راتلونکي کې په خورا اغېزمنه توګه پروژې و ارزوي، پلان، اداره او توجیه یې کړي.

د افغانستان په اقتصاد وزارت کې ټول اقدامات پلان شوي څو د همکارۍ ملګرتیا څخه ملاتړ وکړي. د رهبرۍ په منظمو غونډو کې ګډې پرېکړې نیول کېږي. د رهبرۍ کمېټه د همکارۍ په برخه کې پرېکړه کوي. همدارنګه دا کمېټه د پراختیایي پروژو تطبیق لارښوودي او ورڅخه ملاتړ کوي او پرمختګ یې ارزوي.

دا د افغانستان پر څان ویسا پیاوړی کوي او د ګډو فعالیتونو د پایلو د پایښت په تضمین کې یوې لېوالتیا ته وده ورکوي.

**خپرونکی سازمان:**
Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH
د بون او ایشبورن، جرمني راجستر شوي دفترونه
www.giz.de
www.gc-afg.de
د انځور اخیستلو امتیاز لرونکی: © GIZ

Imlemented by:
پلي کونکی:

چنګابن ۱۳۹۸

اړیکه
**رؤف مدقق**
د څارنې، ارزونې او عمومي اړیکو د پروګرام مدیر
برېښنالیک: raoof.modaqiq@giz.de